**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي غونډې ملاتړ له یهودي دولت څخه دی، نه له قدس څخه!**

**(ژباړه)**



د اردن حکومت د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي غونډې له وروستۍ فیصلې څخه، چې د امریکا لخوا یې د یهودي دولت د پلازمېنې په توګه د قدس ټاکل رد کړ، خوښي وښوده. د اردن حکومت زیات شمېر رسنیو د دغه هېواد د اطلاعاتو د وزیر محمد مومني د وینا په خپرولو سره د دغې فیصلې هرکلی وکړ. مومني د قدس په اړه د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي غونډې فیصله د نړیوال قانون اراده وبلله او ټینګار یې وکړ، هر ډول هوډ چې د دغه سپېڅلي ښار د شته وضعیت د بدلون په موخه ونیول شي، غیر قانوني دی او هېڅ ډول رسمیت نه لري. مومني ټینګار وکړ، چې د نړیوال قانون پر بنسټ د قدس ختیځ اشغال شوې خاوره ده او د سولې د رامنځته کېدو شرط دا دی، چې د ۱۹٦۷م کال د پولو د رسمیت پېژندنې پر اساس دې د دغه ښار ختیځ د فلسطین خپلواک دولت پلازمېنه وپېژندل شي.

همداراز مومني په خپلو خبرو کې وویل: «سوله هغه گزینه ده، چې عربي نړۍ د یو ستراتیژیک انتخاب په توگه غوره کړې.» حزب التحریر ـ ولایه اردن د ملگرو ملتونو د سازمان له فیصلې څخه د اردن حکومت د خوښۍ او هرکلي په اړه څو ټکو ته اشاره کوي او ټینگار کوي:

نړیوال قوانین، چې د اردن حکومت ویاند ترې ښه پخلی وکړ او هغه معیار گڼي، په هېڅ قضیه کې مسلمانانو ته پاملرنه نه کوي، ځکه دغه د ځواکمنو کفارو او استعمارگرو قوانین دي او همدغه قدرتونه وو، چې په ۱۹۲۴م کې سره یو ځای شول او د مسلمانانو سیاسي او قانوني قدرت (خلافت دولت) یې له منځه یوړ او اسلام یې له نړیوالې صحنې لرې کړ.

د ملگرو ملتونو سازمان له خپلو ټولو دستگاوو، موسسو او جلسو سره، کفري او استعماري سازمان دی او مسلمانانو ته هېڅ ارزښت او اعتبار نه لري د هغوی له موسسو او یا جلسو څخه صادرې شوې فیصلې مسلمانانو ته رسمیت نه لري، ځکه همدغه سازمان و، چې د فلسطین په وېشلو سره یې په دغې مبارکه او سپېڅلې خاوره کې، چې د اسلامي خاورو یوه برخه ده، د یهودي دولت شتون په رسمیت وپېژنده او همدغه سازمان و، چې د عثماني خلافت له ړنگېدو وروسته یې د استعمارگرو لخوا په وړو او کمزورو دولتونو، د مسلمانانو د خاورو وېش په رسمیت وپېژنده.

له شک پرته، د ملگرو ملتونو د سازمان د غونډې وررستۍ فیصله له قدس څخه د ملاتړ په معنا نه ده او په هېڅ ډول د مسلمانانو په گټه نه ده؛ بلکې د فلسطین په مبارکه خاوره کې د یهودي دولت د شتون او د یهودانو په واسطه د قدس ښار د غصب د ټینگښت په معنا ده. ټول فلسطین د ختیځ، لودیځ، شمال او جنوب په شمول د قدس ټول ښار، د سترې اسلامي خاورې یوه برخه ده او د ټولو مسلمانانو ملکیت دی. نو هېڅ لوری او هېڅوک حق نه لري، چې یوه لوېشت یې هم د اسلام او مسلمانانو دښمنانو ته ورکړي او د مسلمانانو په استازیتوب، ورڅخه تېر شي او سترگې پرې پټې کړي.

د مسلمانانو حکام، که هغه عرب او یا غیر عرب دي، په دې فکر کې دي، هغه څه چې یهودانو د قدس ښار د سترې برخې په شمول تر اوسه اشغال کړي،  هغوی ته پرېږدي او ترې تېر دي. دغه حکام د ملګرو ملتونو د سازمان د مخکنیو فیصلو په تایید سره د یهودانو په واسطه د فلسطین اشغال ته ټینګښت وربښي، دغو استعماري فیصلو ته رسمیت ورکوي او په ځینو اسلامي خاورو کې د یهودانو په ګټه شاته شوي دي.

دا چې د فلسطین د قضیې حل، د دوو یهودي او فلسطیني دولتونو د جوړولو پر بنسټ غواړي، دا چې د قدس لودیځ د یهودي دولت د پلازمېینې او ختیځ یې د فلسطین د پلازمېنې په توګه غواړي، دا چې ټینګار کوي، د عربي هېوادونو د سولې وړاندیز، د اسلامي مرستو او عربي هېوادونو د سازمان له کنفرانس څخه صادر شوو فیصلو ته ژمن دي، دا ټول په دې دلالت کوي، چې د دغو خاینو حکامو لاس له نړیوالو استعمارګرو واکمنو سره په یوه کاسه کې دی او په ګډه ورسره د مسلمانانو پر وړاندې دسیسې جوړوي او همدا ډول له الله سبحانه و تعالی، د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم او له مومنانو سره خیانت کوي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

[انفال: ۲۷]

***ژباړه:** اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له الله سبحانه وتعالی او له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خیانت مه کوئ! او همداراز په خپلو امانتونو کې خیانت مه کوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ دغه کار ستره ګناه ده!*

له شک پرته چې د دغو فيصلو او د فلسطين او يا قدس د سپېڅلي ښار له وجب وجب خاورې څخه د مسلمانانو د حکامو د سترګو پټولو پر وړاندې د مسلمانانو مسوليت دا دی، چې په ټولو امکاناتو سره له الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله عليه وسلم او مومنانو سره د دغو خيانتونو لړۍ ختمه او د اسلام، مسلمانانو، اسلامي خاورو او مقدساتو پر وړاندې د دسيسو جوړولو ټغر ټول کړو او يوازينۍ لار چې وکولی شو ياد مسوليتونه په سمه توګه ادا کړو دا ده، چې اسلامي امت د دې خاينو چارواکو له شره وژغورو او پر دې ويجاړو، پاشلو او په کافر غرب پورې تړلو خاينو او مزدورو حکامو د نظامونو پر ځای د نبوت پر منهج د خلافت دولت تاسيس کړو.

سره له دې چې په اردن کې حاکم نظام پر دې پوهېږي، چې د يهودي دولت د پلازمېنې په توګه د قدس له ټاکلو څخه د امريکا د هوډ وروستۍ موخه، د اردن حکومت موخه ګرځول دي، بيا هم د دې پر ځای چې د امريکا د باداری پر وړاندې مقاومت وکړي او اسلامي نظام په پوره توګه تبني او د اسلامي احکامو په تطبيق سره، له غربه اړيکه پرې کړي او د عربه وادي هوکړه (د اردن او يهودي دولت تر منځ د سولې معاهده) او ټولې ژمنې چې پکې ورکړل شوي، لغوه اعلان کړي او له يهودي دولت سره جګړې ته راوګرځي، وينو چې د داسې کړنو پر ځای يې، له رسمي وياند څخه اورو، چې موږ د يهودي دولت شتون ته ژمن يو او په رسميت يې پېژنو.

دا په داسې حال کې ده، چې اردن لومړنی حکومت دی چې د قدس په اړه د امريکا له هوډ وروسته د لاريون غوښتونکی شو او د وزيرانو په شمول يې د خپل حکومت کارکونکي جادو ته ويستل او له خلکو يې وغوښتل چې ورسره يوځای شي او له قدس څخه د دفاع په موخه يې لاريونونه وکړل. د يهودي دولت او د امريکا د احمق او سپک ولسمشر د هوډ پر وړاندې دا څه ډول ذلت، ګمراهي او له شرعي غبرګون څخه سترګې پټول دي، چې اردني دولت يې کوي؟!

وروستۍ خبره دا چې:

**اې د ټولې نړۍ مسلمانانو!** امت ستاسو پوځونو ته سترګې په لار دی، تر څو سمه او عملي لاره غوره کړی، هغه ګزینه چې ستاسو په فریادونو کې له اندونیزیا تر المغرب پورې واوریدل شوه، هغه ګزینه چې په پوره ډول له مزدورو او خاینو نظامونو سره په ټکر کې ده او هغه دا چې له یو قوي حرکت سره مو قدس او ټول فلسطین د یهودو له منګلو وژغورئ. دغه کار د مسلمانانو پوځونو ته ډېر اسان دی او په اسانۍ سره کولی شي، چې تر سره يې کړي؛ په دې شرط چې لومړی هغه خاین حکام چې د هغوی او یهودي دولت د له منځه وړلو خنډ ګرځي، له مخې لرې کړي، او وروسته د ښکېلاګر غرب نفوذ زموږ له ځمکو ټول کړي او واک له غاصبانو واخلي او امت ته چې اصلی څښتن يې دی، ورکړي؛ هغه امت چې شپه او ورځ بې صبرانه د نبوت پر منهج د اسلامي دولت د بیا تاسیس په انتظار کې دی.

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۴۳۹/۱۳**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الثاني ۵مه**

**۲۰۱۷م، د دسمبر ۲۳مه**

**ژباړن: علي عمار**